# کله چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست نو

ستاسو حقونه د ماشومانو او ځوانانو لپاره لارښود

**کله چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست نو دا کتابچه تاسو ته ستاسو د حقونو په اړه اړین معلومات درکوي.** حقونه هغه خپلواکي او ملاتړونه دي چې موږ ټول یې لرو چې د قانون لخوا خوندي دی. د 18 کلونو څخه کم ماشومان د بالغانو څخه مختلف حقونه لري، نو ځکه دا کتابچه بیانوي چې تاسو کوم حقونه لرئ.

**خپل حقونه معلوموول او پرې پوهیدل تاسو سره په پوهیدلو کې مرسته کولی شي کله چې تاسو سره په عادلانه توګه چلند کیږي.** د پولیسو مسؤلیت دي چې تاسو د زیان څخه وساتي او ستاسو د هوساینې یا خیرښګنې ساتنه وکړي پداسې حال کې چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست، حتی که دوي داسې شواهد ولري چې دا وړاندیز کوي چې تاسو شاید د زیان رسولو لپاره یو څه کړی وي.

**مهرباني وکړئ دا کتابچه ژر تر ژره ولولئ.** دا به تاسو سره په پریکړو کولو کې مرسته وکړي کله چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست. هغه کس چې تاسو ته دا کتابچه درکوي په لوستلو او پوهیدو په برخه کې به تاسو سره مرسته وکړي. دوي به دا پوښتنه هم وکړي چې ایا تاسو د دې کتابچې مختلفه  نسخه غواړئ لکه یو په مختلفه ژبه کې یا یو چې لوستل یې اسان وي.

Safer Scotland
Scottish Government

STARR


CYCJ
Children and Young People's Centre for Justice

**1. تاسو حق لرئ چې معلوم کړئ چې ولې پولیس تاسو د پولیسو په حوزې کې ساتي.**




**2. تاسو حق لرئ چې معلوم کړئ چې ولې پولیسو تاسو د پولیسو حوزې ته راوستي یاست.**

3. تاسو باید پولیسو ته خپل نوم، آدرس، د زیږون نیټه او تابعیت ورکړئ که تاسو ته دا معلوم وي. دا یوازینۍ پوښتنې دي چې تاسو یې باید ځواب ورکړئ. **تاسو حق لرئ چې نورو پوښتنو ته ځواب ونه وایئ.**



**4. تاسو حق لرئ چې یو چا ته ووایاست چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست.** پولیس به له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې ایا تاسو غواړئ چې دوې چا ته ووایې چې تاسو هلته یاست. دا کیدای شي ستاسو په کورنۍ کې څوک وي، ستاسو شریک، ستاسو پامرنه کوونکي، ستاسو ملګري یا بل څوک چې تاسو یې پیژنئ. تاسو ښایي اجازه ونلرئ چې له دوي سره خبرې وکړئ. که تاسو د 16 څخه کم عمر لرئ یا د اجباري څارنې امر لاندې یاست تاسو حق لرئ چې د پولیسو په حوزې کې یو څوک له ځان سره ولرئ. تاسو حق لرئ چې ستاسو والدین یا سرپرست د پولیسو په حوزه کې تاسو سره د ملاقات یا لیدو لپاره راشي.

**5. تاسو حق لرئ چې یو وکیل ته ووایاست چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست.**
پولیس به له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې ایا تاسو غواړئ چې دوې یو وکیل ته ووایې چې تاسو د پولیسو په حوزې کې یاست. دا ستاسو خپل وکیل یا د اړتیا په حالت کې وکیل کیدای شي بل وکیل به ستاسو لپاره چمتو شي. دا وړیا ده.



**6. تاسو حق لرئ چې هر وخت له وکیل سره په شخصي توګه خبرې وکړئ.** دا وړیا ده.

**7. تاسو حق لرئ چې وکیل موجود ولرئ که چیرې پولیس تاسو سره مرکه کوي.** دا وړیا ده.

**8. که تاسو د 16 څخه کم عمر لرئ، یو وکیل باید حاضر وي کله چې پولیس ستاسو سره مرکه کوي، پرته لدې چې دا یو څوک په خطر کې واچوي.** که تاسو 16 یا 17 کلن یاست او د اجباري څارنې امر لاندې یاست، یو وکیل باید حاضر وي کله چې پولیس ستاسو سره مرکه کوي پرته لدې چې استثنایي حالات شتون ولري.

**9. تاسو د طبي مرستې حق لرئ که تاسو ناروغ یا ټپي یاست. پدې کې ستاسو د رواني روغتیا لپاره مرسته شامله ده.** پولیس به له تاسو څخه ستاسو د روغتیا او هوساینې په اړه پوښتنې وکړي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې ستاسو د پولیسو په حوزه کې په سمه توګه پاملرنه کیږي. کله چې تاسو د پولیسو په حوزه کې یاست دا مهمه ده چې تاسو پولیسو ته ووایئ که چیرې تاسو یو طبي حالت لرئ چې کیدای شي په تاسو اغیزه وکړي. پولیس ښایي د نرس یا ډاکټر څخه وغواړي چې تاسو معاینه کړي. د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره چې ستاسو پاملرنه د پولیسو په حوزه کې په سمه توګه کیږي. پولیس باید له تاسو څخه پوښتنې وکړي چې ایا تاسو اړتیا لرئ چې د ډاکټر، نرس، یا بل روغتیایی مسلکي سره خبرې وکړئ.

**10. تاسو د خوړو او څښاک حق لرئ.** اوبه به ستاسو لپاره چمتو شي. که تاسو د پولیسو په حوزه کې د څلورو ساعتونو څخه زیات پاتې شئ نو تاسو ته به د خوړو وړاندیز وشي. پولیس باید ژر تر ژره له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې آیا تاسو کوم ځانګړي غذایی اړتیاوې لرئ.

# نورې لارښوونې...

**که تاسو اضافي مرستې ته اړتیا لرئ**
تاسو کیدای شي مرستې ته اړتیا ولرئ ترڅو پوه شئ چې څه پیښیږي کله چې تاسو د پولیسو په مرکز یا تانې کې یاست. که تاسو 16 کلن یا زیات یاست، دا مرسته د یو روزل شوي مالاتړی کس څخه کیدای شي چې مناسب بالغ ورته ویل کیږي. دا کیدای شي اړین وي که تاسو د زده کړې معلولیت یا د رواني روغتیا ستونزه لرئ. که چیرې پولیس فکر وکړي چې تاسو د یو مناسب بالغ مرستې ته اړتیا لرئ، دوی به تاسو ته یو چمتو کړي، حتی که تاسو یې غوښتنه ونه کړئ

**ستاسو سره د مرستې لپاره د ژباړونکي ترلاسه کول**
دا اړینه ده چې تاسو پوه شئ چې د پولیسو په حوزه کې څه ویل کیږي. که تاسو په انګلیسي خبرې نه کوئ یا نه پوهیږئ، نو پولیس به ستاسو سره د مرستې لپاره هغه څوک پیدا کړي چې ستاسو په ژبه خبرې کوي. دې کس ته ژباړونکي ویل کیږي. دا وړیا ده.

**په مخابرې یا خبرو آترو کې مرسته**
ډیرو خلکو ته دا ستونزمن وي چې پوه شي چې د پولیسو په حوزه کې څه پیښیږي. پولیس باید له تاسو وپوښتي چې ایا تاسو مرستې ته اړتیا لرئ یا په هیڅ شی ډاډه نه یاست. دوی باید تاسو ته په لوست کې د مرستې وړاندیز وکړي که تاسو ورته اړتیا لرئ. که تاسو کاڼه یاست یا په ښکاره توګه په خبرو کولو کې ستونزه لرئ، پولیس به څوک ستاسو سره د مرستې لپاره راولي. دا کیدای شي د BSL ژباړونکي یا بل مناسب مسلکي وي. دا وړیا ده.

**که تاسو برتانوي نه یاست**
که تاسو د برتانیا تبعه نه یاست، نو پولیس باید ستاسو د لوی کمیسیون، سفارت یا قونسلګرۍ سره د اړیکي نیولو وړاندیز وکړي چې ستاسو د عالي کمېشنرۍ، سفارت یا قونسلګرۍ سره اړیکه ونیسي ترڅو دوی ته ووایي چې تاسو چیرته یاست او ولې د پولیسو په مرکز یا تانې کې یاست. بیا یو څوک کولی شي تاسو سره په شخصي توګه لیدنه وکړي او ستاسو سره د لیدو لپاره یو وکیل ترتیب کړي.

**څه پیښیږي که چیرې په تاسو تور ولګول شي یا په امر د پولیسو حوزې ته راوړل شي؟**
که تاسو په کوم جرم تورن شئ، تاسو ته د وتلو یا د تللو اجازه درکول کیدای شي یا تاسو د پولیسو په مرکز یا تانې کې ساتل کیدای شئ او په راتلونکي احتمالي ورځ محکمې ته بیول کیدای شئ. که تاسو د امر یا ورنټ په اساس د پولیسو حوزې ته راوړل شوي یاست، نو تاسو په راتلونکي ممکنه ورځ نیول کیدای شئ او محکمې ته بیول کیدای شئ. په ځینو حالتونو کې، تاسو ته اجازه درکول کیږي چې کور ته لاړ شئ.

**تاسو څومره وخت په توقیف کې ساتل کیدای شئ؟**
پولیس کولی شي تاسو تر 12 ساعتونو پورې په توقیف کې وساتي پرته له دې چې په تاسو د جرم تور ولګوي. پولیس کولی شي دا تر 24 ساعتونو پورې وغځوي، مګر یوازې پدې حالت کې چې د پولیسو یو لوړ پوړی افسر له دې سره موافق وي. تاسو حق لرئ چې د دې پریکړې په اړه خپله وینا یا ویل ولرئ، یا تاسو کولی شئ غوره کړئ چې ستاسو وکیل ستاسو لپاره له پولیسو سره خبرې وکړي.

**د کاغذ پراڼی پیلول**
که ستاسو قضیه محکمې ته ځي نو تاسو ته یا ستاسو وکیل ته به په قضیه کې د ثبوت یادونه درکړل شي. دا به تاسو یا ستاسو وکیل ته اجازه درکړي چې ستاسو دفاع چمتو کړي. تاسو د دې معلوماتو د ژباړلو حق لرئ، یا لږ تر لږه د اړین کاغذ پراڼي اړوندو برخو حق لرئ که تاسو په انګلیسي نه پوهیږئ.

Safer Scotland
Scottish Government

STARR

CYCJ
Children and Young People's Centre for Justice

# نورې لارښوونې...

**وکیل ته د لاسرسي حق په اړه معلومات**

- پولیس به له تاسو وپوښتي چې آیا تاسو غواړئ له وکیل سره خبرې وکړئ. پولیس به ژر تر ژره ستاسو لپاره له وکیل سره اړیکه ونیسي.
- تاسو اجازه لرئ چې هر وخت د وکیل سره شخصي خبرې وکړئ. دا کیدای شي په تلیفون وي، یا ممکن دوی راشي او تاسو د پولیسو په حوزه کې ووینې.
- د وکیل سره خبرې کول معمول دی، او داسې منظر نه جوړوی چې تاسو کوم څه غلط کړی دی.
- د وکیل دنده دا ده چې ستاسو د حقونو ساتنه وکړي او تاسو ته د قانون په اړه مشوره درکړي.
- تاسو کولی شئ د هغه وکیل سره خبرې وکړئ چې تاسو یې پیژنئ یا یو داسې وکیل چې پولیس کولی شي ستاسو سره یې د خبرو کولو بندوبست وکړي - دې وکیل ته د اړتیا په صورت کې یو وکیل ویل کیږي. د اړتیا په صورت کې وکیل خپلواک وې او د پولیسو لپاره کار نه کوي.
- که پولیس له تاسو سره مرکه وکړي، دوی به له تاسو څخه پوښتنه وکړي چې ایا تاسو غواړئ چې د دې پیښې په وخت کې تاسو سره په خونه کې یو وکیل وی.
- پولیس معمولا اجازه نه لري چې له وکیل پرته ستاسو سره مرکه وکړي که چیرې تاسو د وکیل غوښتنه کړې وي چې تاسو سره په خونه کې وی.
- تاسو کولی شئ د وکیل سره د خبرو کولو په اړه خپله پریکړه بدله کړئ او هر وخت د وکیل غوښتنه کولی شئ. ژر تر ژره پولیسو ته ووایئ او دوی به ستاسو لپاره له یو وکیل سره اړیکه ونیسي.
- که چیرې وکیل د پولیسو مرکز یا تاني ته رانشي کله چې دوی ویلي وو چې دوی به راشي، یا تاسو اړتیا لرئ چې بیا له وکیل سره خبرې وکړئ، تاسو کولی شئ له پولیسو څخه وغواړئ چې بیا ورسره اړیکه ونیسي. پولیس په دې اړه څه نه وایي چې کله وکیل د پولیسو مرکز یا تاني ته رارسي کله چې له دوی سره اړیکه ونیول شي. پولیس کولی شي ستاسو نظرونه او هیلې له دې وکیل سره شریکې کړي که تاسو وغواړئ دوی یې شریک کړي.

**شکایت کول ستاسو حق دی**

- تاسو حق لرئ چې د هغه چلند په اړه شکایت وکړئ چې د پولیسو لخوا درسره کیږي.
- که تاسو د سکاټلینډ د پولیسو (Police Scotland) په اړه شکایت کوئ نو دا به تاسو بد ښکاره نه کړي.
- تاسو کولی شئ شکایت وکړئ کله چې تاسو په توقیف کې یاست.
- که تاسو غواړئ شکایت وکړئ کله چې تاسو په توقیف کې یاست، نو د انسپکټر یا لوړه رتبه لرونکی کس سره خبرې وکړئ.
- که تاسو غواړئ شکایت وکړئ وروسته له دې چې تاسو خوشې شوي یاست، تاسو کولی شئ د پولیسو کوم مرکز ته لاړ شئ.
- که تاسو د نیول کیدو په جریان کې یا د پولیسو په توقیف کې د پولیس افسر لخوا ټیپي یا آزار شوي یاست نو تاسو باید د سکاټلینډ د پولیسو مسلکي معیارونو څانګې (Police Scotland Professional Standards Department) ته شکایت وکړئ.
- د شکایت کولو لپاره 101 ته زنګ ووهئ یا خپل محلي پولیس مرکز ته لاړ شئ.
- تاسو کولی شئ له بل چا څخه وغواړئ چې ستاسو لپاره شکایت وکړي. دا کیدای شي والدین، پلار، ملګري، شریک یا هغه څوک وي چې تاسو پرې باور کوئ. تاسو اړتیا لرئ دوی ته خپل لیکلي اجازه ورکړئ.

دا کتابچه د سټار (STARR) د غړو لخوا جوړه شوې، د سکاټلینډ یوازینی تنظیم شوی ځای د هغو خلکو لپاره چې د خوندي پاملرنې تجربه لري، په ملګرتیا کې د انصاف لپاره د ماشومانو او ځوانانو مرکز (CYCJ) او د سکاټلنډي حکومت. 'ستاسو د شکایت کولو حق (Your right to complain)' خلک لومړی سکاټلینډ (People First Scotland) سره تطابق شوی دی.

د نورو معلوماتو او مالاتړ لپاره **justtherightspace.org** ته مراجعه وکړئ.

© Crown copyright 2023

Safer Scotland Scottish Government

STARR

CYCJ Children and Young People's Centre for Justice